## د مشروط اقامت لرونکیو افغانانو (Parolees) لەپاره معلومات چې له امن خونو څخه بهر کېږي

متحده ایالاتو ته ښه راغلاست. په خپلو ټولنو کې نویو کورنو ته د سفر پر مهال ستاسو سلامتي، خوندیتوب او هوساینه زموږ اصلي لومړیتوب ګڼل کېږي

**د خپل مشروط اقامت (Parole) د ساتلو لەپاره کوم کارونه باید ترسره کړئ!**
تاسو ته په متحده ایالاتو کې د 2 کلونو لپاره د اوسېدلو مشروطه اقامه درکړل شوې ده. په دغه موده کې د مشروطي اقامې د ساتلو او په متحده ایالاتو کې د پاتې کېدو لپار باید ځیني ټاکلي شرایط مراعات کړئ:

تاسو باید ټاکلي واکسینونه او د توبرکلوز (TB) معاینه وکړئ.

که چېرې یو مشروطه اقامه درلودونکی افغان یاست، چې په رارسېدلو سره مو د متحده ایالاتو د ګمرکاتو او سرحد د خوندیتوب ادارې(CBP) څخه، افغانانو لپاره د مشروطي اقامې معلوماتي پاڼه ترلاسه کړې، پر مشروطه اقامه مو ځیني ټاکلي طبي شرایط پلی کېږي. که چېرې تاسو د پوځي مرکز په یوه دولتي خوندي پناه ځای کې طبي معاینه ترسره کړي نه وي، نو **باید** د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالی خدماتو ادارې (USCIS) ته په دې پته uscis.gov/vaccination-status له طبي شرایطو سره د خپل تطابق په اړه راپور ورکړئ. همدا راز که چېرې تاسو د فدرالي، دولتي یا محلي ګټو ترلاسه کولو لپاره غوښتنه کوئ، باید خپل طبي ریکارډ هم وړاندې کړئ.

| د رسېدلو نېټه | د مشروطي اقامې ساتلو شرایط |
| --- | --- |
| هغه افغانان چې د 2021 کال د سپټمبرمیاشتي له 7 مې نېټې څخه د 2021 د ډیسمبر میاشتي د 31 مې نېټې پورې په متحده ایالاتو کې مشروطه اقامه ورکړل شوې ده. | 1) باید طبي معاینې ترسره او ځیني ځانګړي واکسینونه تطبیق کړئ.<br>د یوه شرط په توګه، متحده ایالاتو کې د مشروطي اقامې درلودونکي افغانان باید له طبي معاینې تېر او د لاندې واکسینونو لومړی ډوز ترلاسه کړي.<br>• د توبرکلوز (نري رنځ) معاینه: (یادونه: که ستاسو د نري رنځ معاینې پایله مثبته وي، باید قرنطین شئ او درملنه ترلاسه کړئ.)<br>• د ایم ایم آر MMR ( شری، ډېبغونی، اوریون ) د واکسین سند د نشتوالي په صورت کې؛<br>• د پولیو واکسین، د واکسین سند د نشتوالي په صورت کې ؛<br>• د کورونا یا کوید 19 واکسین، د واکسین سند د نشتوالي په صورت کې ؛ او<br>• د واکسین سند د نشتوالي په صورت کې باید ټول هغه واکسینونه ترلاسه کړئ چې له عمر سره مو مناسب وي او د ناروغیو د وقایې او کنټرول مرکز لەخوا سپارښتنه شوي وي( cdc.gov/immigrantrefugeehealth/civil-surgeons/vaccinations.html#anchor_1506449934815 وګورئ)، د مخکني واکسین د ثبوت نشتوالی. |

| | |
|---|---|
| | که چېرې تاسو د فدرال له مالي ملاتړ څخه برخمن مرکز کې واکسینونه کړي نه وي او طبي معاینه مو ترسره کړې نه وي، باید په خپل شخصي لګښت يې ترسره کړئ. په مهرباني سره دغي ویبپاڼي uscis.gov/vaccination-status ته په مراجعې سره د خپلې طبي معاینې او واکسینو کولو په اړه راپور ورکړئ.<br><br>2) د پتې د بدلونونو په اړه د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري ته خبر ورکړئ.<br>باید هر ځل د خپلې پتې د بدلولو په اړه په **10 ورځو** کې دننه د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري ته خبر ورکړئ.<br>• کولی شئ چې د AR-11 فورمه، د خپلوانو د پتې د بدلون کارت، په ډکولو د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري ته د برېښنالیک له لارې یا په انلاین بڼه په دې پته: egov.uscis.gov/coa/displayCOAForm.do خبر ورکړئ.<br>• **پاملرنه:** که د پتې د بدلون د غوښتنې په برخه کې له ستونزو سره مخ شئ یا پوښتنې ولرئ، په دغه پته nbcafghancoa@uscis.dhs.gov برېښنالیک واستوئ. |
| هغو افغانانو ته چې د 2022 کال د جنوري میاشتې له لومړۍ نېټې څخه تر اوسمهاله په متحده ایالاتو کې مشروطه اقامه ورکړل شوې ده. | 1) د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري ته د پتې د بدلونونو په اړه خبر ورکړئ.<br>تاسو باید هر ځل د خپلې پتې د بدلولو په اړه په **10 ورځو** کې دننه د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري ته خبر ورکړئ.<br>• کولای شئ چې د AR-11 فورمه، د خپلوانو د پتې د بدلون کارت، په ډکولو د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري ته د برېښنالیک له لارې یا په انلاین بڼه په دې پته egov.uscis.gov/coa/displayCOAForm.do خبر ورکړئ.<br>• پاملرنه: که د پتې د بدلون د غوښتنې په برخه کې له ستونزو سره مخ شئ یا پوښتنې ولرئ، په دغه پته nbcafghancoa@uscis.dhs.gov برېښنالیک واستوئ. |

**څنګه کولای شم چې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري (USCIS) سره اړیکه ونیسم؟**

کولای شئ چې د مرستې لپاره د متحده ایالاتو د تابعیت ورکولو او کډوالۍ د خدمتونو اداري د اړیکو له مرکز سره، له دوشنبې تر جمعې ورځې، د سهار له 8 بجو څخه د ماسخوتن تر 8 بجو، په دې شمېره (TTY 800-767-1833) 800-375-5283 اړیکه ونیسئ. کله چې اړیکه نیسئ، په مهربانۍ سره ځان د افغانستان د تبعه په توګه وروپېژنئ څو مناسب استازی درسره مرسته وکړي شي.

**د حقوقي خدماتو ترلاسه کول**
د حقوقي خدماتو د ترلاسه کولو په اړه د معلوماتو لپاره، uscis.gov/avoid-scams/find-legal-services ته مراجعه وکړئ.

**هغه اوږدمهاله قانوني وضعیت چې ښايي تاسو يې وړ واوسئ**

**پناه غوښتنه**

په متحده ایالاتو کې ښايي فردي وګړي د هغوي د اصلي هېواد یا د کډوالی د اوسني حیثیت په پام کې نیولو پرته د پناه غوښتنه وکړي. که چېرې په خپل هېواد کې د نژاد، ملیت، مذهب، د یوې ځانګړې ټولنیزې ډلې غړیتوب یا سیاسي نظریې له امله محکمه شوي یاست یا په راتلوونکي کې له محکمه کېدو وېره لرئ، ښايي د پناه غوښتنې مستحق اوسئ. د پناه غوښتنې په اړه لا زیاتو معلوماتو لپاره، له uscis.gov/asylum څخه لیدنه وکړئ. دا یوه عمومي اړتیا ده چې پناه غوښتونکي باید متحده ایالاتو ته له رسېدلو څخه وروسته په یوه کال کې دننه دغه چاره ترسره کړي، چې استثنا یکې ډېره کمه ده. که چېرې مشروطه اقامه درکړل شوي وي او د مشروطي اقامې درلودلو حیثیت وساتئ، ښايي د 9 CFR 208.4(a)(5)(iv) له مخې پر خپل وخت د چارو نه ترسره کولو لامله د یوه "فوق العاده حالت" وړ وګرځئ. مونږ سپارښتنه کوو، چې که د پناه غوښتلو اراده لرئ، د مشروطي اقامې د مودې له ختمېدلو څخه مخکې دغه چاره ترسره کړئ. سره له دې، که تاسو يې د مشروطي اقامې د مودې له ختمېدلو وروسته هم په مناسبه موده کې دننه غوښتنه وکړئ، ښايي د استثنا لپاره مستحق واوسئ. د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو ادارې سره د پناه غوښتنې په اړه معلومات په دې پته uscis.gov/i-589 موندلی شئ. که چېرې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو ادارې څخه مو لا دمخه د پناه غوښتنه کړې وي، کولای شئ چې په دې پته uscis.gov/casestatus د خپلې قضیې حالت معلوم کړئ او د دې لپاره د رسید هغه شمېره وکاروئ چې له غوښتنې وروسته مو در استولې ده.

*د فورمې او فیس په اړه معلومات*

- د پناه غوښتنې لپاره، باید د I-589 فورمه ډکه کړئ. دغه فورمه د پناه غوښتنې او له بېرته واپستلو څخه د مخنیوي لپاره ده. چې په دغه (uscis.gov/i-589) انټرنیټي پاڼه کې شته. د I-589 فورمې د سپارلو په بدل کې کوم فیس نشته.

**د کورنۍ پر بنسټ د کډوالۍ غوښتنلیک**

که نېږدې کورنۍ (مېړه، مېرمن، ماشومان، مور، پلار، ورونه، خوېندې) لرئ د متحده ایالاتو اصلي اتباع، دایمي اوسېدونکي یا هم کډوال یا پناه غوښتوونکي وي، ښايي ستاسو په استازیتوب د د دایمي وضعیت غوښتنلیک لپاره شرایطو برابر وي. کله چې موږ غتوګه قبول شوي کډوال او یا پناه اخستونکي وي، هغوی کولای شي چې ستاسو په استازیتوب عریضه وکړي. کله چې مود کورنۍ پر بنسټ غوښتنلیک تأیید کړ، د قانوني دایمي غوښتنې د شرایطو وړ واوسئ. د لا زیاتو معلوماتو لپاره uscis.gov/green-card/green-card-eligibility-categories ته مراجعه وکړئ. د هغو کسانو په اړه لا زیاتو معلوماتو لپاره، چې ښايي د یوه کډوال یا پناه غوښتونکي د خپلوان لپاره عریضه وکړي، uscis.gov/family/family-of-refugees-and-asylees وګورئ.

د دې لپاره چې د کورنۍ پر بنسټ کډوالۍ (د I-130 فورمه، نږدې خپلوان لپاره عریضه، او د I-130 فورمه، د کډوال/ پناه غوښتونکي د خپلوان عریضه) او د حیثیت د تعدیل لپاره غوښتنلیکونه (د I-485 فورمه، د دایمي استوګنې د ثبت یا د حیثیت تعدیل لپاره غوښتنه) لپاره د ځنډېدلو عریضو په اړه معلومات ترلاسه کړئ، عارضین، ذینفعان یا له G-28 فورمې سره د ریکارډ وکیلان ښايي د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو ادارې د اړیکو مرکز سره، له دوشنبې تر جمعې ورځې، د سهار له 8 بجو څخه د ماسخوتن تر 8 بجو (ختیځ وخت) په دې شمېره 800-375-5283 (TTY 800-767-1833) اړیکه ونیسي. د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداره، له افغانستان څخه راغلیو عارضینو او ذینفعانو لپاره د کورنۍ پر بنسټ د ځنډېدلو عریضو کار د چټکتیا په هڅه کې ده.

*د فورم د فیس د لګښتونو په اړه معلومات:*

- د I-130 فورمي [uscis.gov/i-130](uscis.gov/i-130) پاڼه وګورئ
- د I-730 فورمه، [uscis.gov/i-730](uscis.gov/i-730) پاڼه وګورئ
- د I-485 فورمه، [uscis.gov/i-730](uscis.gov/i-730) پاڼه وګورئ

**د کډوالۍ د ځانګړي ویزې پروګرام**

که چیرې باور لرئ چې د کډوالۍ د ځانګړي ویزې (SIV) پروګرام مستحق یاست یا مو لا دمخه د کډوالۍ د ځانګړي ویزې د غوښتنلیک پروسه پیل کړي وي، نو اړ یاست چې لاندې پروسه کې ټول پړاوونه بشپړ کړئ:

1. له بهرنیو چارو وزارت سره د ماموریت د مشر (COM) د تصدیق ترلاسه کړئ. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، [travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/special-immg-visa-afghans-employed-us-gov.html](travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/special-immg-visa-afghans-employed-us-gov.html) یا [travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/siv-iraqi-afghan-translators-interpreters.html](travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/siv-iraqi-afghan-translators-interpreters.html). ووینئ. که چیرې لا دمخه د ماموریت د مشر (COM) تصدیق لرئ، دویم پړاو ته لاړ شئ.
2. د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري سره د I-360 فورمه، امریکایي – اسیایي، کونډ/ کونډې یا ځانګړي کډوال لپاره عریضه ډکه کړئ. په دې پته [uscis.gov/i-360](uscis.gov/i-360) چمتو شوي لارښووني تعقیب کړئ. تاسو بنايي خپله عریضه له اړینو اسنادو سره (د لومړیتوب له مخې په پي ډي ایف شکل) سکین او په دغه پته [mnsci360sivapp@uscis.dhs.gov](mailto:mnsci360sivapp@uscis.dhs.gov) بې ایمیل کړئ. د مهربانۍ له مخې هغه بریښنالیک پته پکې ولیکئ چې غواړئ د متحده ایالاتو د تابعیت ورکولو او کډوالۍ خدمتونو اداره درته یو بریښنايي رسید دروالستوي. دا باوري کړئ چې د فورمي د لارښوونو مطابق خپله فورمه لاسلیک کړئ. که چیرې یوه تصدیق شوې د I-360 فورمه لرئ، دریم پړاو ته لاړ شئ.
3. که چیرې یوه تصدیق شوې د I-360 فورمه لرئ، بنايي د I-485 فورمه، د دایمي استوګنې د ثبت یا د حیثیت د تعدیل په سپارلو سره د قانوني دایمي استوګنې (ګرین کارت ترلاسه کولو) لپاره غوښتنه وکړئ. د لارښوونو لپاره [uscis.gov/green-card-for-an-afghan-employed-behalf-us-government](uscis.gov/green-card-for-an-afghan-employed-behalf-us-government) پتې ته مراجعه وکړئ. مخکې تر دې چې له I-485 فورمي سره د ګرین کارټ لپاره غوښتنه وکړئ، موږ باید ستاسو د I-360 فورمي عریضه تصدیق کړو.
4. د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداره به له هغه وروسته تاسو لپاره د مرکې مهالویش وټاکي، چې I-485 فورمه وسپارئ. د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري له لوري ټولې چمتو شوي لارښووني تعقیب کړئ. که چیرې مونږ ستاسو د I-485 فورمه تصدیق کړو، نو ګرین کارت به دروالستوو.

ځانګړو افغان کډوالو لپاره د یوې ځنډېدلي I-360 فورمي په اړه پوښتنو درلودونکي عارضین، ذینفعان یا د ریکارډ وکیلان بنايي د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري د اړیکو مرکز سره په دې شمېره (TTY 800-767-1833) 800-375-5283 اړیکه ونیسي. د اړیکو د مرکز کاري ساعتونه، له دوشنبې تر جمعې ورځې، د سهار له 8 بجو د ماسخوتن تر 8 بجو (ختیځ وخت) پوري دي. له متحده ایالاتو څخه بهر له بل ځای څخه په 212-620-3418 شمېره اړیکه نیولی شئ یا په انلاین بڼه په دې پته [egov.uscis.gov/casestatus/landing.do](egov.uscis.gov/casestatus/landing.do) د خپلې قضیې حیثیت معلومولی شئ.

د ماموریت له مشر (COM) سره د ځنډېدلي غوښتنلیک یا د کډوالۍ د ځانګړي ویزې په اړه پوښتنو لپاره، په مهربانۍ د بهرنیو چارو وزارت د کډوالۍ د ځانګړي ویزې له ویبپاڼې ([travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/specialimmg- visa- afghans-employed-us-gov.html](travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/specialimmg-visa-afghans-employed-us-gov.html)) لیدنه وکړئ.

**<u>په متحده ایالاتو کې کار کول</u>**

دا چې د مشروطې اقامې درلودونکي کس په توګه وکولی شئ په متحده ایالاتو کې قانوني کار وکړای شئ، باید د کار جواز غوښتنلیک ([uscis.gov/i-765](uscis.gov/i-765)) لپاره د I-765 فورمه مو د متحده ایالتونو د تابعیت او کډوالۍ اداري لخوا تأیید شي.

***د کار د جواز غوښتنلیک***

د I-765 فورمي د استولو لپاره لاندې پړاوونه بشپړ کړئ:

- د I-765 فورمه ډکه کړئ. د I-765 فورمي په لومړۍ برخه کې "د کارموندني منلو لپاره لومړنی اجازه" انتخاب کړئ. په دویمه برخه کې د خپلې وړتیا کټګوري ولیکئ، 27 شمېره. د مشروطې اقامې درلودونکو لپاره د کټګورۍ شمېره (c)(11) ده، دریېمه فورمه لاسلیک کړئ.
- د خپلې I-94 فورمه ډکه او د پاسپورټ یا د سفر هغه بل سند یوه کاپي ورسره یوځای کړئ، چې ښیي تاسو ته په متحده ایالاتو کې د بیړنیو ع بشري اړتیاوو یا INA 212(d)(5) قانون پر بنسټ د مهمو عامه ګټو له مخې په مشروط ډول اقامه درکړل شوې ده. د I-94 فورمي ترلاسه کولو په اړه لا زیاتو معلوماتو لپاره، .i94.cbp.dhs.gov/I94وګورئ
  - که چېرې پاسپورټ نه لرئ، کولی شئ خپله A-Number شمېره په کارولو سره په انلاین بڼه له I-94 فورمې څخه استفاده وکړئ. A-Number شمېره د پاسپورټ د شمېرې په برخه کې دننه کړئ:
    - "AFG" د پاسپورټ صادروونکي هېواد په برخه کې؛ یا
    - "USA" د پاسپورټ د صادرونکي هېواد په برخه کې.
- خپله I-94 فورمه د I-94 فورمې ، پاسپورټ یا د سفر هغه بل سند یوه کاپي ځان سره ولرئ، چې ښیي تاسو ته په متحده ایالاتو کې د بیړنیو بشري اړتیاوو یا تر INA 212(d)(5) قانون له مخې د مهمو عامه ګټو له مخې په مشروط ډول اقامه درکړل شوې ده لاندې پتې ته پست کړئ:

USCIS WESTERN FORMS<br>ATTN: OAW I-765<br>10 Application Way<br>Montclair, CA 91763-1350

- د لا زیاتو معلوماتو لپاره، uscis.gov/humanitarian/information-for-afghans ته مراجعه وکړئ او مشروطه اقامه درلودونکي افغانانو برخه کلیک کړئ.
- د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداره ښایي له تاسې وغواړي چې په یوه مرکه کې څرګند شئ یا بایومیټریک شئ (د ګوتو نښې، انځور یا لاسلیک) څو ستاسو هویت تصدیق شي، اضافي معلومات ترلاسه کړي او د شالید او امنیتي معاینات وکړي، د هغه جنايي تاریخچې د ریکارډونو د معاینه کولو په شمول، چې د تحقیقاتو فدرالي اداري (FBI) ساتلي وي، او دا هر څه ستاسو د I-765 فورمې په اړه تر پرېکړې وړاندې ترسره کړي. وروسته له دې چې مونږ ستاسو د I-765 فورمه‌ترلاسه او بشپړتیا مو تصدیق کړه، که چېرې د بایومیټریک خدماتو ته د حاضرېدلو اړتیا وه، مونږ به په لیکلي بڼه تاسو ته خبر درکړو. که تاسو ورته اړتیا ولرئ، په خبرتیا کې به د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري د غوښتنلیک د محلي یا د ټاکل شوي ملاتړ مرکز موقعیت او ستاسو د وعدې نېټه او وخت چمتو شي. که چېرې تاسو د بایومېټرېک خدماتو وعدې ته حاضر نه شئ، د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداره به ستاسو غوښتنلیک رد کړي.

کله چې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداره ستاسو د I-765 فورمه تصدیق کړي، مونږ به ستاسو د کارموندني د جواز سند، په ریکارډ کې ستاسو موجودې پتې ته درواستوو.

*د فیس په اړه معلومات*

هغه افغانان چې په افغانستان کې د بشري کړکیچ لامله په متحده ایالاتو کې په مشروط ډول د اوسېدلو اجازه ولري، د لومړنی I-765 فورمې سپارلو په بدل کې کوم فیس ورڅخه نه اخیستل کیږي.

د مهربانۍ له مخې په یاد ولرئ: د فدرالي قانون له مخې، هر ګومارونکی، چې کارګر ګوماري، فیس غواړي یا په متحده ایالاتو کې د کار لپاره افراد ګوماري، د I-9 فورمه، د کارموندني د وړتیا تصدیق بشپړوي. د I-9 فورمه او د یوه کارګر په توګه ستاسو د حقونو په اړه لا زیات معلومات په دې پته uscis.gov/i-9-central موندلی شئ. که د کار کولو غوښتنه کوئ باید ګومارونکي ته د کار کولو د اجازې سند *EAD* وړاندې کړئ.

**<u>د ټولنيز امنيت شمېره او کارت</u>**

تاسو به اړ یاست چې د یوې دندې، د ټولنیز امنیت ګټو او نورو دولتي خدماتو ترلاسه کولو لپاره د ټولنیز امنیت شمېره ولرئ. که چېرې تاسو په یوه خوندي پناه ځای کې د I-765 فورمه بشپړه کړې وي، مونږ د ټولنیز امنیت اداري (SSA) ته معلومات ورکړي دي څو هغوي تاسو ته د ټولنیز امنیت یوه شمېره وټاکي او په ریکارډ کې موجودې پټې ته د ټولنیز امنیت کارټ درواستوي. که چېرې تاسو په یوه خوندي پناه ځای کې د I-765 فورمه بشپړه کړې نه وي، نو کولای شئ چې پر دغه پته [ssa.gov/ssnumber](ssa.gov/ssnumber) د موجودو لارښوونو په کارولو سره د ټولنیز امنیت یوې شمېرې لپاره غوښتنلیک وړاندې کړئ.

**<u>د رټنې، تاوتریخوالي او ناوړه ګټې اخیستنې قربانیانو لپاره سرچینې</u>**

د کورني تاوتریخوالي، اجباري واده او انساني قاچاق په ګډون، د رټنې او ناوړه ګټې اخیستنې ډېر ډولونه موجود دي. په متحده ایالاتو کې داسې قوانین موجود دي چې د یوه ناوړه حالت یا اجباري واده په مخنیوي کې درسره مرسته کولای شي.

- **کورنی تاوتریخوالی** په اړیکه کې یو ډول عمل دی، چې پر مېړه/ مېرمن، مور/ پلار یا ماشوم د واک درلودلو او ساتلو لپاره کارول کیږي. په کورني تاوتریخوالي کې فزیکي، جنسي، احساساتي، مالي یا رواني زیان او یا د زیان رسولو ګواښونه شامل دي.
- **جبري واده** هغه واده دی چې د یوه یا دواړو اشخاصو له رضایت پرته ترسره کیږي. رضایت په دې مانا، چې یو څوک په بشپړ، ازادانه او باخبره توګه، له شخص او د واده له نېټې او وخت سره موافقه وکړي. اجباري واده ښايي هغه مهال پېښ شي، چې ستاسو د کورنی غړي یا نور څوک، تاسو په فزیکي، احساساتي، ګواښ یا دوکې له مخې مجبور کړي چې د خپلې خوښې خلاف واده وکړئ. د اجباري واده په اړه لا زیاتو معلوماتو لپاره، په مهربانی سره [uscis.gov/humanitarian/forced- marriage](uscis.gov/humanitarian/forced-marriage) وګورئ.
- **انساني قاچاق** له یو چا څخه د تجارتي جنسي اړیکو یا اجباري کار لپاره ناوړه ګټه اخیستل دي. په عمومي ډول، په دغه ناوړه ګټه اخیستنه کې باید جبر، دوکه یا زور زیاتی شامل وي څو انساني قاچاق وګڼل شي. سره له دې، که چېرې له 18 کلنی څخه کم عمره شخص د تجارتي جنسي اړیکي لپاره وهڅول شي، آن که جبر، دوکه یا زور زیاتی هم پکې شامل نه‌وي، انساني قاچاق ګڼل کیږي. د کډوالی د هوساینې او نورو هغو سرچینو په اړه لا زیاتو معلوماتو لپاره، چې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالی خدماتو اداره یې د انساني قاچاق قربانیانو لپاره چمتو کوي، په مهربانی سره [uscis.gov/humanitarian/victims-of-human-trafficking-and- other- crimes](uscis.gov/humanitarian/victims-of-human-trafficking-and-other-crimes) وګورئ.

که چېرې له اجباري واده، کورني تاوتریخوالي، انساني قاچاق یا بل ډول رټنې یا ناوړه ګټې اخیستنې سره مخ شوي یاست، ستاسو په ژبه د وړیا مرستې ترلاسه کولو لپاره لاسرچینو سره اړیکه ونیسئ:

- **د کورني تاوتریخوالي په اړه ټیلیفوني کرښه:** 800-799-7233, 800-787-3224 (TTY)، www.ndvh.org
- **د جنسي تیري، ناوړه ګټه اخیستنې او تیري ملي شبکې (RAINN) په اړه ملي ټیلیفوني کرښه:** 800-656-4673، www.rainn.org.
- **د ورکو شوو یا ناوړه ګټه اخیستل کېدونکو ماشومانو لپاره ملي مرکز:** 800-843-5678، www.missingkids.com
- **د جرم قربانیانو ملي مرکز:**, 800-394-2255, 800-211-7996 (TTY)، www.ncvc.org
    - د انساني قاچاق په اړه ملي ټیلیفوني کرښه: .888-373-7888 لیکلی پیغام: 233733

**<u>د بې سرپرسته ماشومانو لپاره معلومات</u>**

بې سرپرسته ماشوم هغه څوک دی چې تر 18 کلونو یې عمر ټیټ وي، په متحده ایالاتو کې د کډوالی قانوني حیثیت نه لري او په متحده ایالاتو کې مور/ پلار یا داسې قانوني ساتونکی نه لري چې هغه له هغه ساتنه او مراقبت وکړي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره د متحده ایالاتو روغتیا وزارت او د کډوالو د میشتیدو او بشري خدماتو اداري (ORR)او د بې سرپرسته ماشومانو او سپانسرانو لپاره د کډوالو د بیا مېشتېدنې د بشري خدماتو له دفتر سره: 800-203-7001، اړیکه ونیسئ او یا information@ORRNCC.com برېښنالیک واستوئ.